هفته‌نامه آبادي اوونيزه
ABADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
شنبه، د شعبان المعظم ۱۵ مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال
#۴۰

Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

# سرليکنه



واک ته د اسلامي امارت له رسېدو سره سم د نړيوال بانک په مالي ملاتړ له منځنۍ اسيا، سوېلي اسيا ته د افغانستان له لارې د انرژۍ لېږد کاسا زر پروژې عملي کارونه په ټپه ودرېدل. خو اوونۍ وړاندې نړيوال بانک يو ځل بيا د يادې پروژې د پاتې کارونو د بشپړولو پرېکړه وکړه او ددې بنسټ له لوري په خپاره شوي راپور کې ويل شوي، چې په نږدې راتلونکې کې به په افغانستان کې د کاسا زر پروژې عملي کارونه له سره پيل کړي.

د کاسا زر پروژه ۱۳سوه مېګاواټه برېښنا له تاجکستان او قرغزستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان ته لېږدوي، چې له دې لارې د لېږدېدونکې برېښنا څخه ۳سوه مېګاواټه يې افغانستان او پاتې زر مېګاواټه يې پاکستان ته ورکول کېږي. د کاسا زر پروژه له تاجکستان څخه د شېرخان بندر له لارې د کندوز، بغلان، پنجشېر، کاپيسا، کابل، لغمان او ننګرهار ولايتونو څخه په تېرېدو پاکستان ته رسېږي. تر دامهاله د کاسا زر پروژې د رغونې چارې په قرغزستان کې ۹۷ سلنه، تاجکستان کې ۷۰ سلنه، افغانستان کې ۳۰ سلنه او په پاکستان کې ۵۰ سلنه ترسره شوې، خو د نورو هېوادونو په پرتله يې زياتې چارې په افغانستان کې پاتې دي.

د کاسا زر پروژه چې يوه ستره او حياتي پروژه ده، ددې سيمه ييزې پروژې په عملي کېدو سره به نه يوازې په افغانستان، بلکې په سيمه کې اقتصادي پرمختګ، سياسي ټيکاو او د افغانستان لپاره د نړيوال باور زياتېدو زمينه برابره شي. بله دا چې که چېرې دغسې پروژې عملي کېږي، نو افغانستان لپاره به د کاسا زر پروژه لومړنۍ اقتصادي پروسه وي چې دا مسير پيلوي او ترځنګ به يې د افغانانو لپاره نه يوازې په فردي ډول اقتصادي لاسته راوړنې ولري او د عوايدو د لوړېدو لامل به وګرځي، بلکې د نورو دې ته ورته پروژو عملي کېدو لپاره به هم لاره هواره کړي. دغه راز به ددې پروژې په پلي کېدو سره افغانستان هر کال لسګونه مېليون ډالر ترانزيټي فيس ترلاسه کړي او يو زيات شمېر هېوادوالو ته به کاري فرصتونه هم برابر شي. اسلامي امارت يې د پيل هرکلی کړی او د عملي کېدو له پاره يې هر راز اسانتياوې برابروي. ددې پروژې په عملي کېدو سره به نه يوازې افغانستان بلکې ښکېل هېوادونو په سياسي او اقتصادي ثبات کې هم رغنده رول ولري، مانا داچې دا پروژه د سيمه‌ييز اتصال ترڅنګ اقتصادي ګټې هم له ځان سره لري.




## اسلامي امارت د ټرانسپورټ سکټور ته په خپلو لومړيتوبونو کې ځای ورکړی



۲ مه صفحه

## کار عملی پروژه کاسا یک هزار در افغانستان آغاز می شود



۳ مه صفحه

## د افغان - ټرانس پروژې اقتصادي ارزښت ته کتنه




۴ مه صفحه

# اسلامي امارت د ترانسپورټ سکتور ته په خپلو لومړیتوبونو کې ځای ورکړی



اسلامي امارت د سوداګرۍ او د ترانزیټ د خوندیتوب او په دې برخه کې د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه ترانسپورټ سکتور ته لومړیتوب ورکړی دی. نن ورځ د ښلا ښلو هیوادونو ترمنځ د اړیکو پراختیا ته په پاملرنې سره، د هیوادونو ترمنځ د ترانزیټي توکو لیږد رالیږد د پراخېدو په حال کې دی او اړتیا ده چې دا برخه په سم ډول مدیریت شي. په همدې موخه د اقتصادي کمیسیون د ۱۴۰۱ کال د جواز میاشتې په ۲۲مه نېټه په جوړه شوې غونډه کې د ترانسپورټي ستونزو د حل او د معیاري ترانسپورټي سیستم د رامنځته کولو په موخه د ترانسپورټي چارو د تنظیم کمیسیون له لوري وړاندې شوې طرحه له بحث وروسته تایید او د منظورۍ له پاره کابینې ته وړاندې او د کابینې له لوري منظور شوه. ددې طرحې له لسو مادو څخه یوه ماده په بار وړونکو موټرو د جي پي اېس سیستم نصبول دي. ورپسې د کابل ځمکني ترانسپورت د تنظیم ریاست کې GPS Center هم پرانستل شو. د ۱۴۰۲ لمریز کال په اوږدو کې د اقتصادي کمیسیون په غونډه کې افغان پُست شرکت ته پر ترانزیټي وسایطو د GPS نصبولو قرارداد ورکړل شو. د دغه قرارداد له مخې به افغان پُست شرکت پر هر ترانزیټي موټر د ۴۱ ډالرو فیس په مقابل کې GPS نصبوي. د جي پي اېس له لارې د موټر سرعت د کنټرول ترڅنګ، دا وسیله کولای شي په بېړنیو حالاتو کې له ګرځنده ټیلیفون پرته د اړیکې نیولو زمینه برابره کړي، د جي پي اېس په مرسته د موټرو د غلا مخنیوی کیږي، ترانزیټي موټر نه شي کولای په خپلو موټرو کې قاچاق ترسره کړي او د دې وسیلې په مرسته هر شبېه د موټر په اړه چې په لویو او ترانزیټي لارو تګ کوي، معلومات ترلاسه کیږي. د جي پي ایس دې اهمیت ته په کتو اسلامي امارت د معیاري ترانسپورټ رامنځته کولو په موخه دا ګام پورته کړی دی. پر ترانزیټي موټرو د جي پي اېس نصبولو څخه موخه داده چې له دې لارې به لوړې د یادو موټرو امنیت خوندي شي، دوهم دا چې هېواد کې به د ترانزیټ په اړه کره احصائیه ترلاسه شي او مهمه خبره داده چې پر ترانزیټي موټرو د جي پي ایس په نصبولو سره به د ترانزیټ برخه غښتلې او له بهر څخه راغلي ترانزیټي موټر او شرکتونه به د امن احساس وکړي. له دې سره به د هېواد سوداګرۍ هم پرمختګ وکړي.




# نشست نوبتی کمیته تخنیکی کمیسیون اقتصادی در قصر مرمرین تدویر گردید



در جلسهٔ نوبتی کمیتهٔ تخنیکی کمیسیون اقتصادی که بتاریخ ۳۰ دلو سال جاری در قصر مرمرین برگزار گردیده بود، طبق اجندا در مورد شماری از موضوعات اقتصادی بحث صورت گرفت. در این جلسه در مورد قرارداد زمین به شرکت الکوزی گروپ در پارک های صنعتی شهر کابل بحث شد. پس از بحث همه جانبه به کمیته مشترک متشکل از نمایندگان وزارت ترانسپورت، عدلیه، تجارت، اقتصاد، مالیه، زراعت و ریاست تدارکات ملی مربوط ادارهٔ امور به رهبری نماینده معاونیت اقتصادی وظیفه سپرده شد تا قرارداد یاد شده دوباره ارزیابی و گزارش خویش را به کمیسیون اقتصادی ارائه نماید. همچنان کمیتهٔ تخنیکی کمیسیون اقتصادی در مورد مراحل تامین مالی و تدارکاتی احداث بخش دوم قطعه چهارم پروژهٔ راه آهن هرات - خواف بحث نمود. پس از ارزیابی همه جانبه، فیصله شد که امور تدارکاتی پروژه یاد شده در اوایل سال ۱۴۰۳ خورشیدی آغاز شود. ضمناً در جلسه پیرامون املاک اتحادیه سراسری کارگران، اساسنامه، اعطای مجوز و تعیین هیئت مدیره گفتگو شد. تصمیم بر آن شد تا با درنظر داشت نظریات کمیتهٔ تخنیکی موضوع جهت تصمیم نهایی به کمیسیون اقتصادی راجع گردد.

# کار عملی پروژه کاسا یک هزار در افغانستان آغاز می شود

پروژه کاسا یک هزار از راه افغانستان برق را از قرغیزستان و تاجیکستان به پاکستان انتقال می کند.



**مسیر پروژه کاسا یک هزار در افغانستان:**

از تاجکستان به شیرخان بندر و سپس با گذشتن از ولایت های قندوز، بغلان، پنجشیر، کاپیسا، کابل، لغمان و ننگرهار به پاکستان میرسد.

**طول:**

۱۳۸۷ کیلومتر

**اندازه انتقال برق ترانزیتی:**

۱۳۰۰ میگاوات

**کشور های ذیدخل در پروژه:**

قرغیزستان، تاجیکستان، افغانستان و پاکستان

**مصارف مجموعی پروژه:**

حدود ۱٫۲ میلیارد دالر

**منافع برای افغانستان:**

- سالانه ده ها میلیون دالر فیس ترانزیتی؛
- فرصت های کاری؛
- توسعه تجارت؛
- توسعه روابط اقتصادی بین کشورهای ذیدخل؛
- و از مناطقی که این پروژه عبور می کند، در آنجا ارائه خدمات اجتماعی.

# ۱۴۰۲ خورشیدی؛ دستاورد های امارت اسلامی در بخش اقتصادی




۱. افغانی؛ علاوه بر منجمد شدن پشتوانه پول افغانی و محدودیت ها بر سکتور بانکی، یکی از بهترین واحد های پولی در سطحه منطقه در برابر اسعار خارجی است؛

۲. در سال ۱۴۰۲ اقتصاد کشور در حال توسعه و نرخ انفلاسیون کاهش یافته است؛

۳. فراهم نمودن زمینه برای سرمایه گذاری داخلی و خارجی؛ در نتیجه در سال ۱۴۰۲ خورشیدی ده ها کمپنی بزرگ داخلی و خارجی آمادگی خود را برای سرمایه گذاری حدود ۱۰ میلیارد دالر در بخش های مختلف نشان داده که برخی از آنها عملاً سرمایه گذاری نموده اند؛

۴. امور بانکی به روال عادی برگشته و اعتماد مردم بر آن بیشتر گردیده است؛

۵. از متشبثین و تجاران حمایت و به مشکلات شان به اسرع وقت رسیدگی شده است؛

۶. گام های استواری در زمینه حکومتداری الکترونیکی برداشته شده، به عنوان مثال، نصب ۲٤ سکنر الکترونیکی در ۱۲ گمرک کشور؛

۷. دهها پروژه در سکتور های معادن، زیربنا، ترانسپورت، انرژی، مخابرات، صنعت و زراعت آغاز گردیده که در نتیجه آن فرصت‌های کاری برای ده ها هزار شهروند عزیز کشور فراهم شده است؛

۸. و در سطح صادرات و عواید ملی افزایش چشمگیری به میان آمده است.

@FDPM_AFG

# د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۷۳.۵۰ | ؋۷۳.۵۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۵۳ | ؋۲۵۳ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۱,۳۳ | ؋۱,۳۳ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۹.۶۳ | ؋۷۹.۶۸ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰.۷۹ | ؋۰.۷۹ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۸۸۷ | ؋۸۸۷ |
| ۱ | انگليسي پونډ | ؋۹۳,۱۹ | ؋۹۳,۲۵ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱۹,۶۰ | ؋۱۹,۶۱ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۲۰,۰۱ | ؋۲۰,۰۲ |
| ۱ | چيني ين | ؋۱۰.۲۱ | ؋۱۰.۲۲ |



# د افغان - ټرانس پروژې اقتصادي ارزښت ته کتنه

ليکوال: امان‌الله حنيفي



## سريزه

افغانستان د بې شمېره تر ځمکه لاندې طبيعي زېرمو په ځانګړې توګه د اوسپنې او مسو په درلودو سره سره لا تراوسه نه دی توانېدلی، چې د خپلو ټولو سوداګريزو توکو او کاني موادو د لېږد رالېږد لپاره په ټول هېواد کې د اوسپنې پټلۍ يوه بشپړه او ځواب ويونکې شبکه رامنځته کړي. داسې شبکه چې د هغې په واسطه افغانستان د ګاونډيو او سيمې هېوادونو سره ونښلول شي او خپل سوداګريز توکي په کم لګښت او ټاکلي وخت مشخص ځای او مارکېټ ته ورسوي.

د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې د اوسپنې پټلۍ شبکې غځولو ته ځانګړې پاملرنه شوې، يوشمېر شبکې بېرته رغول شوې، نيمه پاتې کارونه يې بشپړ شوي او اوسمهال د حيرتان اوسپنې پټلۍ، د آقينې اوسپنې پټلۍ او تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ له لارې په ورځني ډول زرګونه ميټريک ټنه صادرات او واردات ترسره کېږي. د افغانستان اسلامي امارت په ځانګړې توګه د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت او د اوسپنې پټلۍ اداره هڅه کوي چې په افغانستان کې د اوسپنې پټلۍ شبکه پراخه کړي او له دې لارې افغانستان د ګاونډيو او سيمې هېوادونو سره ونښلوي. له دې پروژو يوه هم افغان- ټرانس ده. افغان ټرانس د اوسپنې پټلۍ مهمه پروژه ده، چې د افغانستان له خاورې په تېرېدو سره منځنۍ اسيا له جنوبي اسيا هېوادونو سره وصلوي او د سوداګرۍ په برخه کې بې شمېره اسانتياوې رامنځته کوي. دا چې دغه پروژه به د افغانستان لپاره څه اقتصادي ارزښت ولري، مور به همدې مقاله کې پرې خبرې کوو.

## د افغان- ټرانس پروژه

د اوسپنې پټلۍ دغه پروژه چې ټولټال ۶۴۷ کيلومتره اوږدوالی، ۳۳ د اورګاډي پلونه او ۳ سټېشنونه به ولري؛ ټاکل شوې چې د ۴،۸ ميليارده ډالرو بوديجې په لګښت سره به له ازبکستان څخه پيل او د افغانستان له خاورې



په تېرېدو سره به پاکستان ته وغځول شي. دغه پروژه چې لومړنۍ طرحه يې په ۲۰۱۸م کال کې د ازبکستان له خوا وړانديز شوې وه، د اسلامي امارت له راتلو را وروسته يې د اړوندو هېوادونو پام ځان ته اړولی دی. د تېرو دوه کلونو پر مهال د ازبکستان، افغانستان او پاکستان مسوولينو څو ځله د يادې پروژې د پيل او پر وړاندې يې د شته ستونزو د له منځه وړلو په موخه ناستې ترسره کړې دي. ټاکل شوې وه چې د افغان- ټرانس اوسپنې پټلۍ پروژه د ازبکستان له ترمز ښار څخه پيل او د افغانستان له مزارشريف، سمنګان، بغلان، پروان، وردګ، کابل، لوګر او ننګرهار ولايت کې د تورخم له لارې د پاکستان له اوسپنې پټلۍ شبکې سره ونښلول شي.





د وروستيو تحقيقاتو وروسته دا مسير د طبعي پيښو، غرونو، اوږدې فاصلې او لوړو مصارفو په خاطر د درې واړه هيوادونو په توافق د (لوګر- تورخم) پرځای (لوګر- پکتيا) ته تبديل شو، چې د لومړني مسير په پرتله ۱۲۶ کيلومتره لنډ دی او لږو مصارفو ته اړتيا لري. د همدې ناستو په دوام په دې وروستيو کې د افغانستان، ازبکستان او متحده عربي اماراتو د مسؤلينو له لوري له (ADL Ulanish) شرکت سره د افغان- ټرانس اوسپنې پټلۍ پروژې د تخنيکي – اقتصادي مطالعاتو (Feasibility Study) د پيل تفاهم ليک لاسليک شو. د دغه تفاهم ليک پر اساس به ياد شرکت د افغان ټرانس اوسپنې پټلۍ پروژې تخنيکي، اجتماعي او اقتصادي مطالعات په خپل مالي لګښت ترسره کوي او د دغو مطالعاتو نتايج به د افغانستان، ازبکستان او پاکستان هېوادونو له لوري په دغه مهمه پروژه کې د پانګونې د جذب په موخه له نړيوالو مالي بنسټونو، هېوادونو او سوداګرو سره شريکوي. د يادونې وړ ده چې له دې وړاندې هم يوشمېر هېوادونو لکه روسيې، قطر او متحده عربي اماراتو په دغه پروژه کې د پانګونې لېوالتيا ښودلې وه.

## د افغانستان لپاره يې اقتصادي ګټې

ترانسپورټ او ترانزيټ د يو هېواد په اقتصادي وده کې خپل ځانګړی ارزښت لري او په دغه برخه کې پانګونه يې د سيمه‌ييزې او نړيوالې سوداګرۍ فرصتونه زياتوي. په نړيواله کچه ډېری هېوادونه د مسافرو او سوداګريز ترانسپورټ لپاره له سمندري، هوايي، ځمکنۍ او اوسپنې پټلۍ شبکو څخه استفاده کوي؛ خو افغانستان چې بهر ته مستقيم لاسرسی نه لري، يوازې له ځمکني ترانسپورټ استفاده کوي. دا چې افغانستان په وچه کې راګير هېواد دی او بهر ته د مستقيم لاسرسي نه لرلو له وجې يې اقتصاد او سوداګري اغېزمن شوې، اړ دی چې نړيوالو سوداګريزو مارکېټونو ته د لاسرسي په موخه تر ټولو اسانه او کم لګښته افشن چې د اوسپنې پټلۍ شبکې غځول دي، غوره کړي او له دې لارې ځان له نړۍ او سيمې هېوادونو سره وصل کړي.

له نېکمرغه د افغانستان اسلامي امارت په دې برخه کې جدي ګامونه اخيستي دي، د مختلفو پروژو ترڅنګ چې په مرسته يې موږ د بېلابېلو هېوادونو سره د اوسپنې پټلۍ له لارې وصلېدلی شو، يوه مهمه او حياتي پروژه د افغان – ټرانس ده، چې د افغانستان لپاره بې شمېره اقتصادي ګټې لري:






- افغان- ټرانس پروژې په جوړېدو سره به د افغانستان له لارې د ترانزيټ په کچه کې زياتوالی راشي.
- د دغه پروژې په بشپړېدو سره به په ارزانه بيه د مرکزي او جنوبي اسيا هېوادونو څخه افغانستان ته د وارداتي توکو د انتقال زمينه برابره او هېوادوالو ته به په ارزانه بيه وړاندې شي.
- د دې پروژې په مرسته به سيمه ييز اتصال رامنځته شي او جنوبي اسيا به د مرکزي اسيا سره ونښلول شي.
- د يادو هېوادونو ترمنځ به ټرانسپورټي لګښتونه د پام وړ راټيټ شي.
- د دې هېوادونو ترمنځ به راکړه ورکړه يا سوداګري شاوخوا ۲۲ ميلياره ډالرو ته لوړه شي، چې هممهاله به ورسره د افغانستان سوداګريزې اړيکې له سيمه‌ييزو هېوادونو سره پياوړې کړي؛
- له ازبېکستان څخه د توکو انتقال به د ۳۳ ورځو څخه ۴ ورځو ته راکم شي؛
- د افغانستان هغه ولايتونه چې د اوسپنې پټلۍ دغه پروژه ورڅخه تيرېږي، اوسېدونکو ته به ئې د سوداګرۍ زمينه برابره شي؛
- د افغان- ټرانس پروژې له لارې به زرګونو هېوادوالو ته د کار زمينه برابره او د فقر کچه به ورسره راټيټه شي؛
- د افغانستان او ګاونډيو هېوادونو په ګمرکونو کې به د کاري فشار او ګڼې ګوڼې ستونزه حل شي؛
- او د دغه پروژې په بشپړېدو سره به په افغانستان کې د بهرنۍ پانګونې لپاره لا نور ښه شرايط برابر شي.

## پايله

واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره په سيمه کې د سيمه‌ييز اتصال د رامنځته کېدو او په دغه برخه کې د پانګونې لپاره بې شمېره فرصتونه برابر شوي. په افغانستان کې د بشپړ سرتاسري امنيت په راتلو سره د افغان – ټرانس او ټولو لويو سيمه‌ييزو پروژو د پيل او تطبيق لپاره خورا ښه زمينه برابره شوې. د افغان ـ ټرانس په بشپړېدو سره به سيمه ييز اتصال رامنځته، د ښکېلو هېوادونو سياسي او اقتصادي ګټې به خوندي، د سوداګرۍ کچه به پراخه، په سلګونو زرو خلکو ته به په مستقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه برابره او دې ته ورته نور بې شمېره اقتصادي فرصتونه به رامنځته شي. د دې پروژې ښکېلو هېوادونو ته پکار دا ده چې په افغانستان او سيمه کې له راغلي ښه فرصت څخه د افغان – ټرانس د بشپړولو لپاره پوره استفاده وکړي، څو ورسره سيمه ييز سياسي – اقتصادي ټيکاو قوي او د هېوادونو اقتصاد ورسره وده وکړي.

